# له هغه څه نه چې زه له ما څخه وروسته ستاسو په اړه ویره لرم دا دی چې پر تاسو به دنیا او زینت یې پرانستل شي ((پراخي به درباندې راشي).

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ ذَاتَ يَوْمٍ عَلَى المِنْبَرِ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ، فَقَالَ: «إِنِّي مِمَّا أَخَافُ عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي، مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا» فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَوَيَأْتِي الخَيْرُ بِالشَّرِّ؟ فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقِيلَ لَهُ: مَا شَأْنُكَ؟ تُكَلِّمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلاَ يُكَلِّمُكَ؟ فَرَأَيْنَا أَنَّهُ يُنْزَلُ عَلَيْهِ؟ قَالَ: فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ، فَقَالَ: «أَيْنَ السَّائِلُ؟» وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ، فَقَالَ: «إِنَّهُ لاَ يَأْتِي الخَيْرُ بِالشَّرِّ، وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ يَقْتُلُ أَوْ يُلِمُّ، إِلَّا آكِلَةَ الخَضْرَاءِ، أَكَلَتْ حَتَّى إِذَا امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا اسْتَقْبَلَتْ عَيْنَ الشَّمْسِ، فَثَلَطَتْ وَبَالَتْ، وَرَتَعَتْ، وَإِنَّ هَذَا المَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، فَنِعْمَ صَاحِبُ المُسْلِمِ مَا أَعْطَى مِنْهُ المِسْكِينَ وَاليَتِيمَ وَابْنَ السَّبِيلِ - أَوْ كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَإِنَّهُ مَنْ يَأْخُذُهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ، كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلاَ يَشْبَعُ، وَيَكُونُ شَهِيدًا عَلَيْهِ يَوْمَ القِيَامَةِ». یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منبر ناست و او موږ یې شاوخوا ناست وو، نو ویې فرمایل: «له هغه څه نه چې زه له ما څخه وروسته ستاسو په اړه ویره لرم دا دی چې پر تاسو به دنیا او زینت یې پرانستل شي (پراخي به درباندې راشي). بیا یو سړي وویل: اې د الله رسوله! آیا کېدی شي چې خیر شر وزېږوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم غلی شو، نو (دې سړي ته وویل شو چې: څه خبره ده چې؟ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبرې کوې او هغه له تا سره خبرې نه کوي؟ نو موږ ولیدل چې پر هغه وحی نازلېده؟ وایې: بیا یې له خپل (تندي) څخه خولې وچې کړې او ویې ویل: پوښتونکی چېرته دی؟ داسې و لکه چې ویې ستایي، ویې ویل :«په حقیقت کې، خېر شر نه زېږوي، او هغه څه چې په پسرلي کې وده کوي، یا خو وژل کوي او یا مرګ ته نږدې کول، پرته له شنه خوړونکي حیوان، کوم چې تر هغه پورې خوړل کوي تر څو یې چې تشي وپړسېږي، بیا نو د لمر سترګې ته مخ شي سوټې او متیازې وکړي او بیا وڅرېږي، او یقینا چې دا مال شین او خوږ دی، نو غوره مسلمان هغه دی چې یو څه ترې مسکین، یتیم او مسافر ته ورکړي؛ لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي، او یقینا چې څوک یې په ناحقه واخلي، نو د هغه چا په څېر به وي چې خوري او نه مړیږي، او د قیامت په ورځ به پرې ګواه وي».

[(صحيح) [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم په منبر ناست و او خپلو اصحابو ته یې وفرمایل: هغه څه چې زه له ما وروسته پر تاسو ډېر ویرېږم هغه دا ده چې پر تاسو به د ځمکې له نعمتونو، د دنیا د ښکلاګانو، د هغې د زینت او خوښ او د مالونو، جامو، فصلونو او نورو شیانو پراخي راشي چې خلک به یې په ښکلا وياړي، سره له دې چې ژر له منځه تلونکي دي. یو سړي وویل: دنیا خو د الله تعالی نعمت دی، نو آیا دا نعمت به بېرته راګرځي او زحمت او سزا به ترې جوړېږي؟!. خلکو پوښتونکی ملامت کړ، ځکه هغوی پېغمبر صلی الله علیه وسلم ولیده چې چپ شو، او هغوی ګمان وکړ چې په غصه یې کړ. خو (وروسته) څرګنده شوه چې پر هغه صلی الله علیه وسلم وحي نازله شوه، بیا یې له خپل تندي خوله پاکه کړه او ویې فرمایل: سوال کوونکی چېرته دی؟ هغه وویل: زه. یعنې دا یم. نو د الله تعالی حمد او ثنا یې وویله، بیا هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ریښتونی خېر یوازې خېر راپېښوي، خو (د دنیا) دا ښکلا یوازې خېر نه دی، ځکه چې فتنه رامنځته کوي، او په اړه یې سیالي او بوختیا د دې لامل ګرځي چې انسان اخرت ته پوره پاملرنه ونه کړي، بیا یې د دې لپاره مثال بیان کړ او ویې فرمایل: د پسرلي بوټي او شین والی؛ یو ډول فصل دی چې مالونو ته خوند ورکوي او نږدې ده چې د ډېر خوراک له امله ووژل شي او یا وژلو ته ورنږدې شي، خو هغه

حیوانات چې د تشو تر ډکولو پورې وخړېږي، بیا لمر ته مخ کړي پچې او یا متیازې وکړي، بیا له خپلې ګېډې خولې ته واښه راپورته کړي ویې ژوي او تېر یې کړي او بیا خوراک ته وروګرځي. نو دا مال د شنو خوړو بوټو په څېر دی چې د ډېروالي له امله (حیوان) وژني او یا یې وژلو ته ورنږدې کوي؛ مګر دا چې د حلالې لارې د اړتیا وړ په خوراک بسنه کوي تر دې چې خودکفا شي نو ضرر نه لري، او غوره مالدار مسلمان هغه دی چې مسکینانو، یتیمانو او مسافرو ته یې ترې ورکړي او څوک چې دا مال په حقه ترلاسه کوي هغه ته برکتي کیږي، او څوک یې چې ناحقه واخلي، نو مثال یې د هغه چا په څېر دی چې خوراک کوي او نه مړېږي، او د قیامت په ورځ به پرې شاهد وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4180